

# په متحده ایالاتو کې خپل حقونه او مسوولیتونه وپېژنئ

## ستاسې حقونه

په متحده ایالاتو کې ټول خلک بنسټیز حقونه لري. تاسې باید دغه قوانین زده او پرې پوه واوسئ. تاسې مسوولیت لری چې پر دې قوانینو پوه واوسئ او پر دې هم خبر واوسئ چې که چېرته تاسې هغه مات کړل نو له تاسې سره به څه پېښ شی.په متحده ایالاتو کې، که چېرته قانون مات کړئ نو **سزا** به درکړل شي، ان که چېرته د مات شوي قانون په اړه هېڅ **خبر هم و نه اوسئ**.

دغه یوازې څو حقونه دي کوم چې
مهم دي تر څو تاسې پرې پوه شئ:

هر هغه څوک چې په متحده ایالاتو کې ژوند کوي له بنسټیزو مدني حقونو څخه برخمن دي، لکه د وینا آزادي، د عبادت آزادي او په سوله بیزه توګه د را ټولیدو آزادي.

که چېرته USCIS تاسې ته د کار کولو اجازه درکړې وي، نو کولای شئ چې په متحده ایالاتو کې کار وکړئ.

په متحده ایالاتو کې د دندې تبعیض ناقانونه کار دی. هېڅوک نشي کولای چې ستاسې د نژاد، رنګ، مذهب، جنسیت او اصلي ملت په کارولو سره تاسې ته دنده در نه کړي.

عامه خدمات او ګټې د هغو لپاره د لاسرسي وړ دي څوک چې ورته په شرایطو برابر وي.



## د متحده ایالاتو قوانین

په متحده ایالاتو کې زیات شمیر قوانین شته.
په متحده ایالاتو کې هر څوک مسوولیت لري
چې قوانین وپیژني او پر دې پوه شي چې که
چېرته دا قوانین د هغوی له خوا مات شي
نو څه به پېښ شي.

که چېرته خلک دا قوانین مات کړي نو هغوی به ونیول
شي او سزا به ورته ورکړل شي، ان که چېرته هغوی
د همدې مات شوي قانون په اړه هېڅ هم و نه پوهیږي.

په سزاګانو کې لاندې موارد شامل دي:

**جریمه (د پیسو ورکړه)**

**زندان**

**بېرته خپل اصلي هېواد ته ستنول**

له همدې امله، دا ډېره مهمه ده چې په متحده ایالاتو
کې هر څوک قوانین زده او ترې اطاعت وکړي.

که چېرته کوم کس قانون مات کړي، نو هغه به
ونیول شي او د کډوالۍ پر حالت به یې اغېز وکړي.

### په جنسي اړیکو کې رضایت لرل

په متحده ایالاتو کې تر جنسي اړیکو لرلو وړاندې،
دواړه کسان باید دې کار لپاره رضایت ولري
یعنې هوکړه ولري. هان که چېرته دغو کسانو
ودونه کړي وي یا په اړیکه کې وي. رضایت لرل
نه باید د ګواښ، زورزیاتي یا غلطو معلوماتو له
مخې تر لاسه شي. چوپتیا رضایت نه ده،
او که چېرته کوم کس بې هوښه یا ویده
وي نو هغه د رضایت په معنی نه ده.

په متحده ایالاتو کې د لاندې موارډو په اړه قوانین شته:

**زورزیاتی او ګټه اخیستنه**

بل کس ته په قصدي ډول زیان رسول یا ټپي کول
د متحده ایالاتو د قانون خلاف کار دی.

**په جنسي زورزیاتي کې لاندې موارد شامل دي –**

- د جنسي اړیکې لرلو یا جنسي اعمالو
د تر سره کولو لپاره د یوه کس مجبورول
- د سکس لرلو او یا هم جنسي چارو
د ترسره کولو لپاره له زوره کار اخیستل
- په ناغوښتلي ډول لمس کول

**په فزیکي تاوتریخوالي کې لاندې موارد شاملیږي –**

- ټېل وهل
- وهل ډبول
- تر ستوني نیول
- ټول هغه اعمال چې د ټپي کېدو او یا هم
فزیکي ټپ د رامنځته کېدو لامل کېږي

**په ناوړه ګټه اخیستنه کې دغه موارد شاملیږي –**
له یو کس څخه د ګټې تر لاسه کولو په موخه ناوړه
ګټنه یا سو استفاده او یا هم په یو چا باندې د داسې
کار د ترسره کولو په موخه فشار راوړل چې
د هغه د خوښې وړ نه وي. د بېلګې په توګه:

- د یو کس اړویستل څو له معاش پرته کار وکړي او
یا یې هم د کار په مقابل کې کم مزد ورکړل شي
- غلا یا سوال کولو ته د یو چا اړویستل
- د جنسي فعالیت لپاره چاته چل ورکول، اړ ویستل
یا د هغه پر وړاندې له زور کار اخیستل
- له خوښې پرته د یو چا واده ته مجبورل

**تاوتریخوالی او ناوړه ګټه اخیستل د قانون په خلاف دي او دا مهمه نه ده چې دغه تاوتریخوالی د پردیو کسانو، کورنۍ غړو او یا هم ملګرو ترمنځ پیښږي. د بېلګې په توګه، د والدینو له خوا د ماشومانو وهل ډبول او یا هم د مېړه له خوا د ښځې وهل غیر قانوني دي.**

## تبعیض او ځورول

د امریکا د متحده ایالاتو قانون تبعیض او ځورول منع کوي.

تبعیض په دې معنا:

- یو څوک له خپل حق محروم شوی
- یو څوک د نژاد، رنګ، دین، جنسیت (د جنسي لیدلوري، جندر هویت او یا امېندوارۍ په ګډون) اصلي ملیت، عمر او یا هم معلولیت لرلو له امله ناسم چلند تجربه کړی وي.

په جنسي ځورونه کې لاندې موارد شاملېږي:

- تحریک کول، تعقیب کول، او د یو چا په تشویش اچول د یو شمېر چلندونو له مخې لکه ډارولو، فزیکي تاوتریخوالي، زیان اړولو، او یا هم توهین کوونکو انځورونو په ښوولو.

## ماشوم ته نه پام او له هغه ناوړه ګټنه (سو استفاده)

ماشوم هغه چاته ویل کېږي چې عمر یې له 18 کلونو کم وي. ماشومان حق لري چې باید خوندي و اوسي. د امریکا د متحده ایالاتو ټول ایالات له ماشوم څخه د ساتنې په برخه کې قوانین لري. دغه قوانین ماشوم او د هغه والدینو ته اړوندېږي. هغه زیانونه چې د امریکا په متحده ایالاتو کې غیرقانوني ګڼل کېږي عبارت دي له:

**فزیکي ناوړه کاروونه** – وهل ډبول، په څپېړه وهل، وهل، په لغته وهل، ټکان ورکول یا بل هر هغه فزیکي عمل چې د زیان یا ټپي کېدو لامل ګرځي یا ماشوم ته زیان اړوي یا یې ټپي کوي

**جنسي سو استفاده** – د یو لوی او ماشوم ترمنځ هر ډول جنسي فعالیت

**احساسي سو استفاده** – په مکرر ډول د هغه رد کول، چیغې وهل، په مکرر ډول په داسې نوم یادول یا تحقیر کول چې د ماشوم پر ودې او د ځان اړوند ارزښت ته یې زیان ورسوي.



**پام نه کول (بی توجهي)** – د ماشوم د اړتیاوو نه پوره کول، د نه پام کولو په ځینو بېلګو کې لاندې موارد شاملېږي:

- ښوونځي ته د ماشوم نه لېږل - د امریکا په متحده ایالاتو کې ټولې نجونې او هلکان او معلولیت لرونکي ماشومان باید ښوونځي ته ولېږل شي.
- ډاکټر ته د ماشوم نه وړل هغه مهال چې اړتیا لري باید ډاکټر ته یوړل شي
- په مناسبه توګه له ماشوم سرپرستي نه کول – تل باید د ځوانو ماشومانو سرپرستي وشي، په ځانګړې توګه په عامه ځایونو کې. هغه څوک چې سرپرستي کوي باید په کافي اندازه لوی وي څو وکولای شي له ماشوم ساتنه وکړي او په بېړني حالت کې غبرګون وښيي. د بېلګې په توګه، له یو دوه کلن ماشوم څخه د اووه کلن ماشوم سرپرستي خوندي نه ګڼل کېږي

**که چېرې تاسو د یو جرم قرباني یاست، تاسو حق لرئ څو قانوني ګام واخلئ. د یوې جرمي پېښې د راپور ورکولو په موخه لومړی له سیمه ییزو پولیسو، یا د خپلې ښاروالۍ له ادارې (شېریف) سره اړیکه ونیسئ. دوی به دا مالومه کړي چې آیا جرمي چارې د راپور پیګیرۍ ته اړتیا لري او که نه.**

**په بېړنیو حالاتو کې له 911 شمېرې سره اړیکه ونیسئ.**

## د امریکا د متحده ایالاتو
## د جنایي عدالت له سیستم سره اړیکه

که چیرې د امریکا په متحده ایالاتو
کې یو کس نیول کیږي او یا هم په کوم
جرم تورن کیږي، تر هغه مهاله چې
مجرم وه نه پیژندل شي، بې ګناه ګڼل کیږي.
د متحده ایالاتو د جنایي عدالت په سیتم
کې ټول کسان دا حق لري تر څو یو
سلاکار ولري، په دې معنی چې که
چیرته کوم کس د وکیل د نیولو
مالي وړتیا و نه لري، نو دولت
ورته یو مدافع وکیل ورکوي.

هغه کسان چې د متحده ایالاتو
اتباع نه دي باید د پناه غوښتنې
د وضعیت او د خپلې پناه غوښتنې
د ځنډول شویو غوښتنلیکونو په
اړه له خپل جنایي مدافع وکیل سره
خبرې وکړي. که چیرته کوم کس
د پناه غوښتنې وکیل لري،
نو دا هم ډیره مهمه ده تر څو
دا کس خپل د پناه غوښتنې وکیل
له هر ډول مخکنیو یا ځنډول
شویو جنایي نیونو څخه خبر کړي.
هغه غیرامریکایي اتباع چې نیول
شوي دي باید د پناه غوښتنې له
هر ډول غوښتنلیک یا نړیوالو سفرونو
وړاندې د پناه غوښتنې له یوه
وکیل سره خبرې وکړي.




## له پولیسو سره د چلند ډول

په متحده ایالاتو کې د پولیسو دنده دا ده چې عامه نظم او خوندیتوب رامنځته کړي، قانون پلی کړي او د خلکو له حقونو څخه ساتنه وکړي. هر کله چې څوک په عامه ځای کې له پولیسو سره مخامخ کیږي، نو د هغوی له خوا دروول کیږي، یا ور سره خبرې کوي نو باید دغه لارښووني تعقیب کړي:

- ارام اوسئ او خپل احساسات مو کنټرول کړئ
- په درنښت سره چلند ولرئ او استدلال مه کوئ
- خپل لاسونه مو د لیدلو وړ ونیسئ او له خپلو جیبونو یې را وباسئ
- تښتئ مه
- په ناګهاني توګه څه شي ته مه ور نږدې کیږئ
- په یو ځای کې کېنئ او ارام اوسئ
- د پولیسو افسر ته لاس مه ور وړئ یا هم ډېر نږدې مه ورسره دریږئ